ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

# د امبېلې جنګ او چاربېته


- Abdul Basir[1]
- Ibad ur Rahman[2]
- Haidar Hussain[3]



***ABSTRACT***

*The war fought at Ambela has had a lot of impact on the lives of the residents here. The feeling of slavery is highlighted in the people, thereby a great determination to get freedom arises. Its profound influence is seen on Pashto literature, especially poetry. Charbita was popular in Pashto poetry at that time, so the impact of this important war has also been mostly on Charbita. In this article, the study of the famous Charbita's poets of that time has been presented in order to study the public sentiments of that time in this war and to assess the patriotism of the Pashtuns.*


**Key words:** *Ambela, War, Charbita, Englo pashtun, Patriotism Impact.*

د ټپې نه پس د پښتو اولسي شاعرۍ بل مشهور صنف ʼʼ چاربېته ʻʻ دے- په دې وجه چې اولسي شاعرانو څنګه په ټپه کښې د خپلو احساساتو اظهار کړے دے نو هم دغه شان ئې په چاربېته کښې هم هغه ټول واقعات کۀ هغه عشقي او روماني داستانونه وو او کۀ نور تاريخي جنګونه وو په چاربېته کښې د هغې رودادونه بيان شوي دي- په دې باب کښې ډاکټر يار محمدؐ مغموم ليکي:

> ʼʼ پښتنو چې د سېد احمد شهيد بريلوي د مذهبي تحريک يا د نورو محرکاتو په نتيجه کښې د سيکانو خلاف کوم جنګونه کړي دي د دغو ټولو جنګونو رودادونه په دغه چاربېتو کښې بيان شوي دي-ʻʻ[1]

د مغموم صېب د ذکر شوې حوالې په رڼا کښې مونږ دا وئيلے شو چې د امبېلې جنګ هم د سېد احمد شهيد د تحريک يو کړۍ ده ځکه چې دا جنګ انګرېزانو د هغې مجاهدينو خلاف شروع کړے ؤ کوم چې د سېد احمد شهيد سره د هندوستان نه راغلي وو او په ستهانه او ملکا کښې ډېره شوي وو- لکه څنګه چې په ټپو کښې د دې جنګ ذکر شوے دے هم دغه شان په چاربېته کښې د دغه جنګ رودادونه ښۀ په تفصيل سره وړاندې شوي دي- ʼʼ کۀ يو خوا پکښې د مذهبي او روحاني رهبرانو چې د خپل خوږ دين او مذهب د سرلوړۍ دپاره تورې راخستې وې- د دغو مشرانو په کښې په خلاص مټ ستائنې شوې دي او کومو غدارانو چې د خپل دنياوي لالچ او هوس دپاره د

---

[1] PhD Research Scholar, at Pashto Academy, University of Peshawar.
[2] PhD Research Scholar, at Pashto Department, University of Malakand.
[3] PhD Research Scholar, at Pashto Academy, University of Peshawar.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

پښتو او اسلام په پاکو مخونو تور پوري کړے دے نو د دغه غدارانو ئي غندنه کړي ده-''[2]

د دي جنګ د اثر لاندي لسو پوري شاعرانو په خپلو چاربېتو کښي د دغي جنګ ذکر کړے دے په دغه شاعرانو کښي احمد ګل، ابراهيم د کالو خان، اکبر شاه د کُنډي، پاياو، حميد ګل، سعدالله، طالب ګل، نواب خان، نورشالے د ذکر وړ دي- دلته د دي ټولو شاعرانو د چاربېتو نه يو څو خاص خاص بندونه د مثال په توګه وړاندي کوم-

١) د احمد ګل چاربېته

غزا پسي راغلے دے په ګور ئي الله نُور کا
مولا دي مشرف په هر طرف عبدالغفور کا
غزا پسي راوويستل ګوجر له بليجي نه
صاحب لره راغلي دي خطونه د مانجي نه
زهير شو پيرنګے چي شو خبر له دي لانجي نه
مسواک ئي ذوالفقار ملک به په وينو باندي سُور کا
غزا پسي راغلے دے په ګور ئي الله نُور کا
حضور په امبېله شو بيا صاحب وي ورته کوکه
دا ملک د پښتانۀ دے تري نه څه څوک به دي خوړ کړه
سوات بونېر زما رعيت دے تري نه لري شه مشکوکه
صفت زما د توري فيرنګے د بهاولپور کا
مولا دي مشرف په هر طرف عبدالغفور کا
''[3]

دا چاربېته د اخوند عبدالغفور (سېدو بابا) په باب کښي وئيلي شوي ده- سېدو بابا څوک وۀ؟ او په دي جنګ کښي ئي څۀ کردار ادا کړے وۀ؟ په دي باب کښي مونږ مخکښي د ټپو د عنوان لاندي ښۀ تفصيل سره ذکر کړے دے- دلته کښي هم د سېدو بابا ستائينه شوي ده او کوم کردار چي ئي په دغه جنګ کښي لوبولے دے هغه هم په دي چاربېته کښي ښۀ ښکاره دے-

د دي چار بېتي د اول بند په باب کښي ډاکټر يار محمدؐ مغموم ليکي:

'' دي جنګ کښي استعمال شوي '' بليجه '' تکے ډارمستېټر د سوات باباجي وطن ياد کړے دے مګر دا د هزاري ضلعي بټګرام کښي د يو ځائے نوم دے- مانجه د لاهور سيمه کښي د يو ځاے نوم دے-''[4]

دا چاربېته په مذهبي او قومي رنګ کښي لړلي شوي ده لکه دا اول بند کښي مسواک ټکي له ذوالفقار سره تشبیه ورکول، په دویم بند کښي مسواک، رمنځ، تسبیح، اَمسا، کوزه وغیره ټکي راوړل د اسلام او مذهب سره تړلي ښیزونه دي- په دي باب کښي مغموم صیب لیکي

’’ په دغه شاعری کښي به د قومي او مذهبي میني ګډوډ جذبات بیانولے شول ---- د دغه قومي او مذهبي میني ګډوډ جذبات د دغه دور د شاعری یو ځلانده خصوصیت دے-‘‘[5]

د دي چاربېتي پنځم بند د مغموم صیب د دي خبري دلالت کوي چي په دغه چاربېتو کښي قومي او مذهبي ګډوډ جذبات بیان شوي دي- په پنځم بند کښي د پښتنو د قامیت ذکر شوے دے چي پښتانۀ ډیر غیرتي قوم دے- دوي ګورے چي یو واري درلاندي وتل نو دوي په سر هم پروا نۀ کوي-

په دي وجه اخوند عبدالغفور فیرنګیانو ته ووئیل چي د دي ځاے نه واپس شۍ ګني انجام به مو ښۀ نۀ وي خو چي بیا هم انګرېز د سېدو بابا خبره ونۀ منله او راغلل نو د امبېلي په مقام داسي تباه شول چي بیا په خپلو کړو پښېمانه وو-

(۲) د اکبر شاه چاربېته

راغلۀ غازیان د پیرنګي په هغه ګړ بانــــــــدي
اوړي قتـــــــل ګـــــــړ بانـــــــدي
راغلۀ غازیان غزا له واړه لور په لــــــــور عالمــــــه
ګــډ ئـــي کــړو پـــرې شـــور عالمـــه
دا شادو مـخې خدائے ور کـړي دي په کــــــــور عالمــــــه
اخلـــي بـــه تـــري خـــور عالمـــه
وسله ئي نۀ وه ډز ئي ورکړو په لوړ بانــــــــدي
اوړي قتـــــــل ګـــــــړ بانـــــــدي
وسـلـه ئـي نـۀ وه د اولیـاؤ کرامت ورســـــــره
ډېـــر ئـــي ؤ قـــــوت ورســـره
مولا به حوري ورله ورکړي هم جنت ورســـــــره
مـــــرګ د شـــــهادت ورســــره
مُلایان مړۀ شو غبر ئي خور شو په کُنړ بانــــــــدي
اوړي قتـــــــل ګـــــــړ بانـــــــدي
مُلایان مړۀ شو رامدد شي اے د سوات صـــــــاحبه

JAHAN E TAHQEEQ
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

اوسکي مې برسات صاحبه
په عاجزانو باندې شوے دے پسات صاحبه
شو بونېر ميرات صاحبه
لکه بُلبلې چې ورپر پړدي په لکړ باندي
اوړي قتل کړ باندې[6]

په دې چاربېته کښې هم يو خوا ته ئې دخپلو شهيدانو ستائينه کړې ده او وايي چې دوي له به الله تعالیٰ د شهادت په بدله کښې د حورو په لاس جنتي شراب ورکړي، د دې خيال څرګندونه شوې ده نو بل خواته ئې د پيرنګيانو غندنه کړې ده او هغوي له ئې د شادوګانو سره تشبيه ورکړې ده او د هغوي دپاره داسې سپک الفاظ استعمال شوي دي لکه ’’ خور اخيستل ‘‘ ټکے د پښتنو په معاشره کښې د ټولو نه بد کنځل ګڼلے شي- د دې نه د غازيانو او د چاربېتې د شاعرانو د انګرېزانو نه د کرکې او نفرت په ښۀ ډول څرګندونه کېږي او بل په دې چاربېته کښې د پښتنو غازيانو سره د اسلحې د نيشتوالي هم څرګندونه شوې ده چې پښتنو غازيانو په تبرګو او لوړو د انګرېز مقابله کړې ده او هغوي ئې په شا تمبولي دي او د دې وجه دا ښائي چې دوي سره د اولياؤ کرامت ؤ د هغې په وجه دوي برے ومونډو-

په دې بند کښې هغه خبرې ته اشاره شوې ده کله چې انګرېز فوځ په ملکا د حملې دپاره راروان شو نو بونېريانو د سوات اخون صاحب ته د امداد دپاره ووئيل او هغه د څلورو زرو لښکر سره په دې جنګ کښې شريک شو او د دې په وجه نور هم د ګېر چاپېره خلک راغلل او انګرېز ئې په شا اوتمبولو-

۳) د حميد ګل چاربېته

معامله جوړ شوه د کفر د اسلام
صاحب له برے ورکړې پروردګاره
د انګرېز پلټنې راغلې کلکتې نه
ورسره ځنې سکان ډبل ګوره ؤو
پښتنو ورته وئېل چې په ځائے کښېنه
بونېر واړه د ملک په تراره ؤو
چملې وائي مونږ نۀ خلاصېږو دې نه
دښمان ئې په ملکا باندې

JAHAN E TAHQEEQ جہانِ تحقیق
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

ښـــــــکاره ؤو
مجا هدين ورکوي سر د رب په
نـــــــام
هوري لُوټ کړي نۀ ويريږي له
کفـــــــاره
مجا هدين وائي ز مونږ مرګ د
شـــــــهادت
په شهادت کښي تېښته نکړو له
مېدانـــــــه
کۀ راسره وي د مړدانو کرامت
پـه غـزا پسـي راتلـو لـه
هندوســـــــتانه
باج کټه کښي عظيم خان شو په
لغنـــــــت
بدي اُشوه د ډګر له زېدالله نه
په امبېله کښي صاحب او ښود
مقـــــــام
چې لښکري ورله راغلې بې
شـــــــماره[7]

دا چاربېته هم خالص د مذهبي اثر لاندي ليکلي شوې ده- د مغه جنګ ټول صورت حال پکښي ښۀ په تفصيل سره وړاندي شوے دے او د مغه ځايونو پوره عکاسي پکښي شوې ده چي انګرېزانو دا حمله په چا کوله؟ او په کوم ځاے ئې کوله؟ د انګرېز سره څوک ملګري وو؟ او د پښتنو غازيانو سره کومو کومو ډلو شرکت کړے وو؟ په کوم ځائے کښي شوے وو؟ د دې ټول تفصيل په دې چاربېته کښي موجود دے-

کۀ يو خوا ئې د سوات اخوند صاحب او غازيانو ستائينه کړې ده نو بل خوا ئې د ډګر زېدالله او باجکټي عظيم خان چا چې په دغه جنګ کښي پښتنو سره غداري کړې وه او د انګرېز مرسته ې کړې وه ښۀ په سختو ټکو کښي ئې د مغوي غندنه کړې ده-

٤) د نواب خان خان چاربېته

په سر د قتل ګړ پيرنګي وکړو ارمان
شــوه چغــه د خطــر پســي
په سترګو ئې تياره شوه چي ليدل به
ئـــــي غازيـــــان
غـــم راغـــے سراســر پســي

په سر د قتل ګړ پيرنګي جمع کړل
فوځونـــــه
دے لام تـــري پـــه پورتـــه
د ورايه به راتلل پسي بونېروال لکه

بازونه
حيران ئي شومه زور ته
چاپېره د زلمو سرې پېټې چغر ډالونه
جلى به شوي هر لور ته
گولى به د رغلو ورېدې لکه باران

راتلل به برابر پسې
را اوړي په سنگر د دوي ئې خونه کړه
ميراته
په گړو کښې ئې گير
صاحبه مبارک دې شه وطن وايمه تاته
سيرى د سوات بونېر
د سېلمي يوسفزي په اقبال جمع شول
غزاته
په بيرته ئې پېر وکړو وې د ښمن مو
عجب خان

انگرېز مې کړو کسکر پسې
د بر کلي ناصر خان په فيرنگي جوړ
کړو ناتار
راکوز شو امبېلې ته
څوک تښتي په ځلورې څوک ئې کړۀ پکښې
مُردار
ورتېر نۀ شي چملې ته
په بوتو ننوځي خلاص به نۀ شي دا غُل
مار
مخ نۀ نيسي چملې ته
ورسم ئې کړل شاگرده په دره باندې
سگان
اسلام ئې کړۀ خطر پسې[8]

په دې چاربېته کښې د پيرنگي د تباهى او د هغوي په دې جنگ باندې د پښيمانى پوره پوره عکاسي شوې ده او د بونېروالو د بهادرى او د ننگ او مړاني ستائينه شوې ده او په آخر کښې چې انگرېزانو تېښته اختيار کړې ده نو سېدو بابا ته پکښې د وطن د ازادى مبارکى ورکړې شوې دې نو بل خوا پکښې د عجب خان غندنه شوې ده- عجب خان د سُدهم خان ؤ- دے د انگرېزانو ملگرے وو- هم د دۀ په وجه د ډگر زېدالله خان د انگرېزانو ملگرے شوے ؤ- انگرېزانو د سُدهم عجب خان او عزيز خان په ذريعه د ډگر زېدالله خان او د بگړې احمد خان له رشوت ورکړو او ځان سره ئې ملگري کړل-[9]

د دې نور تفصيل همېش خليل داسې وړاندې کړے دے:

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

”عجب خان اور اس کا بہائی عزیز خان جنھوں نے امبیلہ کی جنگ میں انگریزوں کی طرفداری کی تھی ---- تحقیق کے بعد معلوم ہوا کہ یہ سب کچھ عجب خان نے اپنے اہمیت کو دکھانے کی خاطر کیا تھا- اموات کے جرم میں عدالت نے عجب خان کو سزائے موت دی جس پر ۲۷ جون ۱۸۷۸ء کو پشاور سنٹر جیل میں عمل درآمد ہوا-“[10]

ژباړه: عجب خان او د هغهٔ ورور عزیز خان څوک چې د امبېلې په جنګ کښې د انګرېزانو طرف دار ؤ- د تحیق نه معلومه شوه چې عجب خان دا هر څهٔ د خپل اهمیت د خودلو د پاره کړي وو- د مرګونو په جرم کښې عدالت عجب خان له د مرګ سزا ورکړه چې په ۲۷ جون ۱۸۷۸ء کښې پېښور سنټر جېل کښې پرې عمل درامد وشو-

په دې باب کښې دا ټپه هم وئلې شوې ده:

چې عجب خان ئې په پانسي کړو
نو د سُدهم خانان په څان او
ويريدنه[11]

بل په دې چاربېته کښې د ناصر خان ستائينه شوې ده او دا ترې څرګندېږي چې په دې جنګ کښې د برکلي ناصر خان ډېره مړانه کړې وه- د همېش خليل صېب د تحقيق مطابق دے په آخره کښې راغے خو د انګرېز په فوځ ئې ناتار جوړ کړو او بلها انګرېزان ئې مړهٔ کړل او ډېرو تېښته اختيار کړه-''[12]

۵) د نور شالے چاربېته

له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر
کا
له هنده دي راغلي خو وطن ئې برېلي
اوس ناست دي په ملکا کښې جوړه وي
داو ګولې
په ډاګه ورته ناست دي تل ثناء د پاک
اکبر کا
له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر
کا

کمپنۍ چې شوه خبر حکم ئې وکړو
سمدستي
جرنېل ته ئې وئيل چې پکښې اونهٔ کړې
سُستي
کلې به ترې نه پرې کړم کهٔ څوک پاتې
شو روستي
اودرېږي مخامخ د مولوي سفر ټکر کا

JAHAN-E-TAHGEEQ
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر کا

باور زمونږ په دې چې د صاحب په کرامت ؤ
د دير غزن راغلے دے راؤړے ډېر قوت ؤ
خبر چې فيرنگے شو پرې بې شانه خوف هيبت ؤ
فکرونه به ئې کول چې نن صبا به مې کسکر کا
له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر کا

په روي د پېغمبر به دا سوال مې کړې قبول
په دواړه پښو ئې شل کړې چې کړي مونږ سره جدول
په ټبر ئې وبا راولې آفت کړې پرې نزول
د ډګر زيدالله خان رب ډګر په دې خطر کا
له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر کا

ياديږي په ډګر کښې زيدالله نُومې نهنګ
غازيانو جمع وکړه په لالو ئې وکړو جنګ
ورغے په نيمه شپه خبر ئې وکړو په فيرنګ
جېمز ته ووئيل نن ډېر د ځان خطر کا
له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر کا

جېمز ورته وئيل زيدالله دربه کړم انعام
دا ستا پينځۀ انې شولې په ما باندې مدام
وائي نور شالے زيدالله غرق دې کړو اسلام
دعا درته کوم رب دې کوړي واړه ټبر کا
له هنده دي راغلي په غزا باندې سفر کا[13]

د دې چاربېتې په اول بند کښې هغې مجاهيدينو طرف ته اشاره شوې ده کوم چې د سيد احمد شهيد سره د هندوستان نه راغلي وو او په ملکا کښې ديره شوي وو او د اسلام دپاره ئې غزاګانې کولې چې کله انګريز د

دې نه خبر شو نو په ټوپۍ کښې ئې لښکر جمع کړو او تر اېسټ انډیا کمپنۍ پورې خبر ورسېدو چې په بونېر د حملې دپاره فوځ راولېږئ- په دې وجه د انګرېزانو په زرګونو فوځ د چمبرلېن په مشرۍ کښې د حملې دپاره رارawan شو چې بل خوا ته سېدو بابا ورته مخه نیولې وه چې ورسره د دیر غزن خان هم ملګرے ؤ- د دیر غزن خان په باب کښې همېش خلیل داسې لیکي:

"اپنے والد قاسم خان کی وفات کے بعد ۱۷ سال کی عمر میں دیر کا حکمران بنا- معرکہ امبیلہ ۱۸۶۳ء میں ہزاروں کا لشکر لیکر انگریزوں کے خلاف لڑا-
غزن خان ۱۸۲۲ء میں پیدا ہوئے اور ۱۸۶۸ء میں وفات پائی-"[14]

ژباړه : د خپل پلار قاسم خان د وفات نه وروستو د اوولس کالو په عمر کښې د دېر حکمران جوړ شو- په ۱۸۶۳ء کښې د امبېلې په جنګ کښې د زرګونو لښکر سره د انګرېزانو خلاف اوجنګېدو - غزن خان ۱۸۲۲ء کښې پېدا شوے او په ۱۸۶۸ء کښې وفات شوے ؤ-

بل اړخ ته لکه د څو نورو چاربېتو کښې هم د ډګر زېدالله غندنه شوې ده- هغۀ ته پکښې ښېرې شوې دي- ستغې سپورې ورته وئیلې شوې دي او داسې څرګندېږي چې د ډګر زېدالله خان به د پښتنو غازیانو د مشورو نه د پېښور چیف کمشنر جېمز خبرولو- په دې وجه هغه ورته پینځۀ انې ورځ انعام مقرر کړو- د همېش خلیل صېب د وېنا مطابق انګرېز ورله د نور دولت نه علاوه یوه طمانچه هم په انعام کښې ورکړې وه چې پینځۀ کاله پس هم د دغې پستول په ګولۍ مړ شو-''[15]

د ډګر زېدالله په باب کښې بهادر شاه ظفر کاکاخېل لیکي:

'' د ډګر زېدالله خان انګرېزانو په جېب کښې اچولے وو-
''[16]

په دې باب کښې ډاکټر یار ﷴ مغموم داسې لیکي:

'' داسې ښکاري چې انګرېزان په خپل مقصد کښې ناکامه وو
څکه ئې په منتونو د بونېر جرګه تیاره کړه- دا جرګه د
بونېر د خانانو جرګه وه او مشري ئې د ډګر زېدالله خان کوله-
عام اولس د خانانو په دې کړو ناراض ؤ خو زېدالله خان د
انګرېزانو په تار راوړېدلے وۀ-''[17]

لنډه دا چې دې چاربېته کښې کۀ یو خوا ته مونږ ته د انګرېزانو فوځ د تباهۍ یو روڼ تصویر ښکاره کېږي نو بل خوا پکښې د پښتنو غازیانو د کامیابۍ، د هغوي مړانې او بهادرۍ ستائینې سره سره پکښې د ځینې هغه پښتنو خانانو غندنې پکښې هم شۀ واضحه ښکاري چا چې خپل قوم سره غداري او د انګرېز مرسته ئې کړې وه-

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

(۶) د طالب گل چاربېته

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام
پکښې توې شو د حضرت د باغ گلونه

په ملکا باندې ډېره شو مجاهد
په غزا پسې راغلي وو له لرې
پېرنگي ورته نيولے ۇ دور بين
ورته ئې وې چې شئ زما له مخه لرې
مولوي او ستا به نۀ کېږي يقين
مونږ ته مۀ کوه نرمې نرمې خبرې
يا به واړه شو په تا باندې تمام
يا به هېر کړو له کمپنی نه حکمتونه

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام
پکښې توې شو د حضرت د باغ گلونه

پېرنگي هندوستانو ته وکړو قهر
تاسو څوک يئ چې کوئ راسره جنگ
د فوځونو زما هيڅ نشته دے شمار
دا ملکا به کړم په تاسو باندې تنگ
مولوي وې زۀ څۀ به ټول کړم زميندار
د کنار[18] صاحب به راولم په ننگ
کمشنر وې زۀ به ورکړمه انعام
کۀ چا وکړۀ په غازيانو گوزارونه

د بيډکي[19] اخون صاحب راغے له سواته
ټکاونه ئې اونيوه په امبېله کښې
هغه د کُک پلټن ئې واړه کړه ميراته
په باطن په ولاړ وۀ په معامله کښې
وې نن ورځ ده د جُمعې گورئ سبا

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

ته
ځائے په ځائے به وي مرګونه
رساله کښې
بونېړوالو داړه وکړه په ماښام
په ګورو به ئې هردم کړه
ګوزارونه

په پيرنګ باندې معامله شوله
تر ډېره
بېرته تښتي کۀ چا ورکړه ورته
لار
توبه ګير شو سوات له سيمې له
بونېره
ډېر عالم شو په کنډاؤ کښې ترې
مُردار
دا چمله ئې کړه د دوي له مرګه
تېره
چې راتلۀ به پښتانۀ پرې وار
په وار
چې د سوات عالمو وکړو ورته
پام
باجوړو له پيرنګي وکړه قتلونه
معامله جوړه شوه د کفر د اسلام
پکښې توې شو د حضرت د باغ
ګلونه[20]

په تېرو مخونو کښې چې مونږ څومره چاربېتې ذکر کړې په هغې کښې زياتې چاربېتې د مذهبي اثر د لاندې ليکلې شوې دي- هم دغه شان د طالب ګل په دې چاربېته هم مذهبي اثر غالب دے- په دې چاربېته کښې د امبېلې د جنګ خدوخال ښۀ په تفصيل سره بيان شوے دے- کۀ يو خوا پکښې د پيرنګي زور او دبدبې ته اشاره شوې ده نو بل خوا د هغه هندوستاني مجاهدينو همت او جذبې ته هم اشاره شوې ده د چا مشري چې مولوي عبدالله کوله- کۀ يو خوا انګريز په خپل فوځ او نورو جنګي وسائلو باندې غاوره ؤ نو بل خوا پښتنو او هندستاني غازيانو سره د اسلام جذبه وه- کۀ يو خوا انګريز د کلکتې نه په زرګونو فوځ راوغوښتلو نو بل خوا پښتنو اخون عبدالغفور د امداد دپاره راوغوښتلو چې په امبېله کښې ئې ورته پړاؤ واچولو او د کوک پلټنې ئې تباه کړې- په دې باب کښې همېش خليل ليکي:

”بیکی اخون صاحب نے سوات سے تشریف لاکر امبیلہ میں قیام کیا اور اُنہوں نے کوک (مطلب میجر جنرل گاروو کس) کے پلٹن کو تباہ کیا-“[21]

ژباړه : د بيکي اخون صاحب د سوات نه تشريف راوړواو په امبېله کښې ئې قيام وکړو او د کوک (ميجرجنرل ګارووکس) دستې ئې تباه کړې -

د اخون عبدالغفور (سېدو بابا) راتګ، د مجاهيدينو جوش او جذبه او د بونېر د قبائيلو اتفاق او اتحاد انګرېز تېښتې له راوستو خو د بونېر او سوات د خلکو مينځ کښې داسې ګېړ شوے ؤ چې لاره ئې نۀ موندله تر دې چې بلها فوځ ئې تباه برباد شو-

په دې چاربېته کښې د دير غزن خان غندنه شوې ده چې دۀ غدارې کړې ده او ايمان ئې په دولت باندې خرڅ کړے دے خو د دې نه مخکښې مونږ د نورشالے په چاربېته کښې د غزن خان صفتونه بيان شوي دي چې دۀ پکښې ډېره بهادري کړې ده- په دې باب کښې همېش خليل ليکي:

”امبيله کی جنگ میں سوات کا صحبت خان شروع ہی سے شامل تھا لیکن بعد میں جب دیر کا غزن خان او باجوڑ کا فیض طلب خان بھی اپنے لشکروں کے ہمراہ جہاد میں شریک ہوئے تو سوات کے صحبت خان نے قبائیلی تعصب کی وجہ سے جس کا مقصد جہاد کی نیک نامی کا سبقت لے جانا تھا- غزن خان اور فیض طلب خان کے لئے ایسے حالات پیدا کئے جس کی وجہ سے وہ دونوں میدان جنگ سے واپس ہو گئے-“[22]

ژباړه : د امبېلې په جنګ کښې د سوات صحبت خان د شروع نه شامل ؤ خو وروستو د دير غزن خان او د باجوړ فېض طلب خان هم د خپلو لښکرو سره جهاد کښې شريک شول نو د سوات صحبت خان د تعصب د وجې نه چې د هغۀ مقصد په جهاد کښې د نوم د پاره شريکېدل وو - د غزن خان او فېض طلب خان د پاره ئې داسې حالات پېدا کړل چې د هغې د وجې نه دواړه د جنګ نه واپس شول -

د همېش خليل صېب د دې اقتباس نه دا څرګندېږي چې غزن خان غدارې نۀ ده کړې بلکې د څۀ وجوهاتو په وجه د جنګ نه واپس شوے ؤ خو بيا هم د نورشالے د چاربېتې نه داسې برېښي چې انګرېز ترې ډېره ويره اختيار کړې وه څکه چې هغۀ څان سره بلها لښکر رواستے ؤ-

۷) د پاياب چاربېته

په دې چمله شوه معامله کاغذ پيرنګ له
راغے
د دې صاحب په مخکښې پښتون ئې جنګ له
راغے
جنګ له راغے علم صاحب جاري کړو قلم
په پيرنګيانو شو غم صاحب ئې جنګ له
راغے
په دې چمله شوه معامله کاغذ پيرنګ له
راغے
د دې صاحب په مخکښې پښتون ئې جنګ له

راغے
جنګ له راغلۀ غازيان د سېلمي تول مومنان
په امبېله شو شهيدان سر ئې پالنګ له راغے
په دې چمله شوه معامله کاغذ پيرنګ له راغے
د دې صاحب په مخکښې پښتون ئې جنګ له راغے
په سمبال څې برابر پيرنګي جوړ کړو سنګر
اخون صاحب لکه نمر د سبا يو درنګ له راغے
په دې چمله شوه معامله کاغذ پيرنګ له راغے
د دې صاحب په مخکښې پښتون ئې جنګ له راغے
غزن پټېږي په غلا په دوي دې پرېوځي بَلا
د دې ډګر زېدالله سر کُوزے ګند له راغے
په دې چمله شوه معامله کاغذ پيرنګ له راغے
د دې صاحب په مخکښې پښتون ئې جنګ له راغے[23]

په دې چاربېته کښې هم لکه د څېنو نورو چاربېتو د اخون عبدالغفور صفتونه بيان شوي دي او د څېنو خانانو د ډګر زېدالله خان او غزن خان غندنه پکښې شوي ده خو مخکښې مونږ د همېش خليل صېب په حواله ذکر کړے دے چې غزن خان په دغه جنګ کښې غداري نۀ ده کړې بلکې د سوات صحبت خان ورته داسې حالات پېدا کړل چې د هغې په وجه غزن خان د مېدان جنګ نه واپس شو- بل په اکثرو چاربېتو کښې د غزن خان مړانه ستائلې شوي ده په دې وجه مونږ په يوه چاربېته نيم کښې د هغۀ په غندنه باندې هغه غدار نۀ شو ګڼلے- په دې باب کښې ډاکټر جهان عالم ليکي:

> '' پښتانۀ د سلو بېرغونو لاندې يو موټے وو- په مشاهيرو کښې د سوات د سېدو بابا، د نواب دير نيکۀ غزن خان، د عمراخان جندولي نيکۀ فيض طلب خان، د مشرقي افغانستان خان سعادت خان، شاؤ بابا، تيمرګري بابا، هډې ملا، د قاضي عبدالحليم نيکۀ سيد احمد خان، د درې حاجي صېب او د ملا خليل بېرغونه د يادولو وړ دي-''[24]

٨) د سعد الله چاربېته

نا ساپه غلبه شوه تول کفار ئې کړو زهير
شو پيدا د دين امير

JAHAN-E-TAHQEEQ جہانِ تحقیق
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

راؤچت شو له بورجله

ناساپه غلبه شوه په ټوپې کښې کور
په کور
دوستانو اوکۀ شور
پیرنګے ئې کۀ خبر
لړز یړي یو سفزي لکه ګلو نه د نمېر
ورته جوړ ئې کړو بهیر
خبر نۀ وو د زلزله

زلزل په کور دننه وي واړه عالم
ګودامونه په ماښام
تري نه غواړي نوکران
ښېرې ورته چا وکړلې د زړۀ نه صُبحدم
ځکه جوړ شو پرې تور تم
سرکاوی ته شو روان
سبا له بونېروالو پرې جنګ راوړو په
زور زیر
برته مات ئې کړو ختریر
هلته پرېواتۀ ماتله

معطله هغه پروت ؤ په ډکي کښې تار
په تار
پرې راتلۀ به وار په وار
د ملکونو مومنان
د تُورو وار پرې راغے د زلمیو په
کُفارو
ډیر به شو پکښې مردار
بېرته نۀ تلو بے ایمان
پراتۀ وو شهیدان لکه ګلونه د کُکنار
ربه ورکاندي دیدار
په جنت مې زمان
کلمې نه چې مُذکر وو هغه شو واړه
خمیر
دوزخ په زمهریر
خلاص به نۀ شي زما ګله

په غزا پسې په جار ، راراوان شو په
تلوار
د بیکي صاحب نواب
په رښتیا د امبېلې غاښي په سر ډېره
اوکړله سرور
بیا په حکم د تواب
پسې راغے غزن خان نواب د دیر
وارخطا شو لوبې پیر

تـــاؤ ئـــي خېـــڙي لـــه ګوګلـــه[25]

دا ډېره اوږده چاربېته ده په دې وجه ترې ما يو څو بندونه دلته کښې درج کړل- په دې چاربېته کښې هغه ټول واقعات ښۀ په تفصيل سره بيان شوي دي کوم چې د امبېلي جنګ سره تړلي شوي دي- دې کښې د انګرېز هغه ټول چالونه هم ښۀ په تفصيل سره بيان شوي دي کوم چې په ټوپی کښې ئې جوړول- بيا د بونېريانو او مجاهدينو هغه مړانه او د جوش او جذبې هم ستائينه شوې ده په کومه جذبې سره چې هغوي د انګرېز تربيت يافته فوځ په شا تمبولے ؤ- کۀ خپل غازيان ئې شهيدان شوي دي نو هغوي ئې د مذهبي اثر لاندې ستائيلي دي او ځاے ورله جنت يادوي او کوم انګرېزان چې مړۀ شوي دي هغوي ته مردار وئيلي شوي دي او د هغوي ځاے دوزخ کښې زمهرير يادوي- د دې نه علاوه لکه د نورو چاربېتو دې کښې هم د سېدو بابا د امبېلي په جنګ کښې کوم کردار ادا کړے دے د هغې پوره پوره عکاسي پکښې شوې ده او فيض طلب خان او د ډګر زېدالله خان غندنه پکښې هم ښۀ په ډاډه شوې ده-

دې ټولو چاربېتو کښې چې د امبېلي جنګ کومه نقشه وړاندې شوې ده د هغې نچوړ مونږ داسې وړاندې کولے شو-

- ✓ دا ټولې چاربېتې په مذهبي او قامي رنګ کښې لړلې شوې ښکاري-
- ✓ په دې چاربېتو کښې د سېدو بابا ستائينه په زياته توګه شوې ده-
- ✓ د څو خانانو لکه د ډګر زېدالله، د بګړې احمدخان، د سُدهم عجب خان غندنه پکښې شوې ده-
- ✓ د انګرېز فوځ تباهی ښۀ روڼ تصوير په ګوته کوي-
- ✓ د انګرېز سره د هر قسمه جديده اسلحه او د مجاهدينو سره د ايمان جذبې په وجه د انګرېز تباهی سبب ګنې-
- ✓ په دې چاربېتو کښې دا خبره هم ښۀ واضحه ده چې انګرېزان په دې جنګ کښې پښېمانه شوي وو-
- ✓ په دې جنګ کښې د دير د غزن خان، د برکلي ناصر خان او څو نورو پښتنو ستائينه شوې ده او د هغوي مړانه ئې ستائلې ده چې په دې جنګ کښې ئې کړې وه-
- ✓ په دې چاربېتو کښې دا خبره هم ښکاره ده چې چېمبر لين پکښې زخمي شوے ؤ-
- ✓ په دې چاربېتو کښې مونږ ته هغه ځايونه هم په ګوته شوي دي په کوم ځايونو کښې چې دا جنګ شوے دے-
- ✓ دا خبره پکښې هم ښکاره ده چې دا جنګ انګرېزانو د څۀ په وجه کړے ؤ-

حوالې

[1] مغموم، يار محمدؐ، ډاکټر، پروفېسر، چاربېته فن او تاريخ، مخ ١٢٥

[2] هم دغه اثر، مخونه ۱۲۵، ۱۲۶
[3] جېمز، ډار مسټېټر، د پښتونخوا د شعر هار و بهار، مخ ۱٤، ۱٥
[4] مغموم، یار محمدؐ، ډاکټر، پروفېسر، چاربېته فن او تاریخ، مخ ۱۹٤
[5] مغموم، یار محمدؐ، ډاکټر، پروفېسر، د ازادئ تحریک او پښتو شاعري، مخ ٦۰
[6] جېمز، ډار مسټېټر، د پښتونخوا د شعر هار و بهار، مخونه ۱٦، ۱۷
[7] هم دغه اثر، مخونه ۱۸، ۱۹
[8] هم دغه اثر، مخونه ۲۰، ۲۲
[9] اخوند خېل، حیدر علی، ضلع بونیر کی وادیاں، مخ ۱۲٦
[10] همېش خلیل، جنګي چاربېتې، مخ ۱۰۱
[11] سلمیٰ شاهین، ډاکټر، پروفېسر، روهي سندرې، مخ ۲۲۲
[12] همېش خلیل، جنګي چاربېتې، مخ ۱۰۲
[13] جېمز، ډار مسټېټر، د پښتونخوا د شعر هار و بهار، مخونه ۲۳، ۲٥
[14] همېش خلیل، جنګي چاربېتې، مخ ۸٤
[15] هم دغه اثر، مخ ۸٥
[16] کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې، لاهور، زاهد پبلشرز پرنټرز، ۲۰۰۹ء، مخ ۹۰٦
[17] مغموم، یار محمدؐ، ډاکټر، پروفېسر، د ازادئ تحریک او پښتو شاعري، مخ ٦٥
[18] مغموم، یار محمدؐ، ډاکټر،'' چاربېته فن او تاریخ `` کښې لیکي: شاهد چې د کُنار نه مراد کنډ وي- مخ ۲۰۱
[19] بیکے په تحصیل لاهور، صوابئ کښې یو کلے دے
[20] جېمز، ډار مسټېټر، د پښتونخوا د شعر هار و بهار، مخونه ۲٥، ۲۷
[21] همېش خلیل، جنګي چاربېتې، مخ ۱۱۱
[22] هم دغه اثر، مخ ۱۱۲
[23] جېمز، ډار مسټېټر، د پښتونخوا د شعر هار و بهار، مخ ۲۹، ۳۰
[24] جهان عالم، ډاکټر، پښتو ټپه او تلمیحات، مخ ۱۸۹
[25] همېش خلیل، د چاربېتې پخواني شاعران، مخونه ۳٤۰، ۳٤٥- مغموم، یار محمدؐ، ډاکټر، پروفېسر، چاربېته فن او تاریخ، مخ ۱۹٤